Afghanistan Cricket Board

بـــريـــا د ټولو هيله

اووم کال، یوولسمه گڼه | نومبر- ۲۰۲۰ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو او بازار موندنې څانګه
مياشتنۍ مجله
نومبر - ۲۰۲۰



مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی

ليکوالان او راټولوونکي:
محمد فريد هوتک، حکمت الله دولتزی،
پرهيز شګيوال او محمد نعمان اشرفي

عکس اخيستونکي:
سيد حسرت سادات او صديق الله عابد

ډيزاين: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

سرمقاله	۱
رحمت الله قریشي د افغان کرکټ بورډ د نوي اجراییه مشر په توګه وګومارل شو	۲
کرکټ بورډ او ملي تلویزیون د اوږدمهالي ګډې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ	۴
د ایمرجنګ او د نولس کلنو کم عمره لوبغاړو روزنیز کمپ پیل شو	۸
د افغانستان ورزشي خبریالانو فدراسیون د ښاغلي فرهان یوسفزي هڅې او لاسته راوړنې وستایلې	۱۲
د کرکټ روزونکو لپاره د لومړۍ کچې روزنیز ورکشاپ ترسره شو	۱۴
د ښځینه کرکټ ۲۵ لوبغاړو ته قراردادونه ورکول کېږي	۱۶
ښاغلی یوسفزی: لومړی ځل دی چې اجراییه رییس د ازادۍ سیالۍ له لاري غوره کېږي	۱۸
له ملي لوبغاړي اکرام علي خېل سره ځانګړې مرکه	۲۲
هغه هېوادونه چې تر اوسه یې د شل اوریزو نړیوالو سیالیو جامونه ګټلې دي	۲۸
لباس کرکټ (Cricket jersey)	۳۲
Australia vs India: Crowds to return to stadia for men's cricket after 8 months	۴۱

سر مقاله

افغانستان شل اوریز غوره لیګ او شپږیزه کرکټ لیګ د افغان کرکټ په کچه هغه لیګونه دي چې له منځه یې ډېر نوي استعدادونه او تکړه ځوانانو ملي لوبډلې ته لاره موندلې او یا یې هم خپلو هېوادوالو ته ځانونه ښودلي دي .
شپږیزه کرکټ لیګ په کور د ننه او افغانستان شل اوریز غوره لیګ د هېواده بهر د افغانستان د هویت څرګندوی دي او د افغان لوبغاړو د پوره چمتووالي په ډګر کې یې ډېر مؤثر او اغېزناک رول لوبولی دی .
پر همدې بنسټ د افغانستان کرکټ بورډ وپتېیله چې د دواړو لیګونو د مالي ملاتړ، تنظیموونکي او عوایدو د ګډې همکارۍ اوږدمهاله قرارداد له ملي راډیو تلویزیون اداري سره چې یاده اداره هم یوه ملي ادار ده؛ لاسلیک کړي چې ګټه به یې دواړو ادارو ته رسیږي .
اوسمهال دواړه اداري په پام کې لري چې د افغانستان شل اوریز غوره لیګ په ښه او غوره توګه د راتلونکي ۲۰۲۱ز کال په مارچ میاشت کې ترسره کړي او پر ټولو هغو مواردو په ګډه کار کوي چې اړین او لازم دي .
درنښت

Rahmatullah Quraishi
Chief Executive Officer

رحمت الله قریشي د افغان کرکټ بورډ د نوي اجراییه مشر په توګه وټاکل شو

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي او د بورډ غړو څه موده وړاندې د اجراییه ریاست لپاره د اعلان شوي بست په موخه له یو شمېر غوره شوو نوماندانو سره مرکې وکړې چې له منځه یې ښاغلی رحمت الله قریشي د غوره نوماند په توګه د نومبر میاشتې په دویمه نېټه، په رسمي ډول اداري ته وروپېژندل شو. ښاغلی قریشي یو مجرب مدیر دی چې له بېلابېلو ملي او څو- ملیتي ادارو سره شا وخوا ۲۳ کلنه تجربه لري چې له دې منځه یې له نړیوال بانک، ملګرو ملتونو، د ځوانانو د پرمختګ، د څار او ارزونې او د پروژو د مدیریت په ډګرونو کې دندې ترسره کړې دي. نوموړی همدارنګه په ذکر شوې نېټه د معرفی په ناسته کې د اداري سرپرست اجراییه رییس ښاغلي محمد نظیم جار عبدالرحیمزي له لوري د افغانستان کرکټ بورډ اداري کارکوونکو ته وروپېژندل شو. دغه راز نوي ګومارل شوي اجراییه رییس ښاغلي قریشي هم له

کرکټ بورډ سره د یوځای کېدو له امله خوښي وښوده او په وینا یې، لومړیتوب به یې د اداري پرمختګ او لاسته راوړنې وي. ښاغلي قریشي همدارنګه زیاته کړه: ((زموږ یوازېنی موخه افغان کرکټ ته لا ډېره پیاوړتیا او هېوادوالو ته خوښي ورکول دي، ځکه کرکټ په هېواد کې یوازېنی هغه لوبه ده چې د خلکو ورته سترګې دي او انشاءالله د غوره پالیسیو او اهدافو په پایله کې به کرکټ یو ځل بیا د مینې او خوښۍ پر لوبې بدلوو.)) ښاغلی قریشي د عامه اداري او عمومي مدیریت په برخو کې دوه ماسټرۍ لري چې سربېره پر دې یې په امریکا او اروپا کې هم په بېلابېلو علمي کورسونو کې ګډون کړی دی. ښاغلي قریشي همدارنګه په ټولنیز-اقتصادي ډګرونو کې د ځوانانو د پرمختګ لپاره د افغانستان په استازیتوب په بېلابېلو نړیوالو غونډو او ناستو کې هم ګډون کړی دی. د یادولو وړ ده چې د افغانستان کرکټ بورډ اداري د اجراییه ریاست لپاره مرکه او پروسه په بشپړ روڼ ډول او د وړتیا له مخې ترسره شوه چې پکې د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي مشر او بورډ غړو سربېره د اداري یو شمېر نورو مسوولینو هم ګډون کړی و.

کرکټ بورډ او ملي ټلویزیون د اوږدمهالې ګډې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ

د افغانستان کرکټ بورډ او ملي راډیو تلویزیون مسوولینو د نومبر په ۱۱مه نېټه، د یوې سترې غونډې په ترڅ کې د افغانستان شل اوریز غوره لیګ (اې، پي، ال) لپاره د عمومي تنظیموونکي هوکړه لیک؛ لاسلیک کړ چې له مخې به یې دواړه ادارې د لسو کلونو لپاره په اړوند ډګرونو کې له یوه بل سره همکاري کوي.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي په همدې تړاو جوړه شوې ناسته کې وویل، افغانستان کرکټ بورډ او ملي راډیو ټلویزیون ګډې موخې لري، له شک پرته د دوو ملي ادارو یو ځای کېدل به هرو مرو ډېرې لاسته راوړنې ولري.

د ښاغلي یوسفزي په وینا: موږ له ملي ټلویزیون غوره خاطرې لرو او افغانستان ملي راډیو ټلویزیون به له دې وروسته زموږ ستراتېژیک او اوږدمهاله ملګری وي، چې دغه معتبره ټلویزیوني شبکه به افغان کرکټ په لا ډېره ښه توګه هېوادوالو او نړیوالو ته وړاندې کړي.

ښاغلي یوسفزي وویل: همدارنګه باید زیری درکړم چې له دې وروسته به د افغانستان شل اوریز غوره لیګ لوبې یو ځل بیا پیل شي چې د کرکټ نړیوالې شورا له لوري زموږ لیګ روڼ بلل شوی او ادارې ته یې د یاد لیګ د لوبو کولو اجازه ورکړې او موږ به وکولی شو چې دغه لیګ په ښه توګه ترسره کړو.

ښاغلي یوسفزي زیاته کړه: ملي ټلویزیون به یو ستراتېژیک ملګری وي او دلته یوازې د خپرونو موضوع نه ده مطرح، بلکې د مالي ملاتړ کوونکو او نورو اړوند موضوعاتو په ډګرونو کې هم ګډ ملګري یو، له دې وروسته به د دواړو ادارو تجربې سره شریکې او ملي لوبډله او افغان کرکټ به په لا ډېره ښه توګه نړیوالو ته وروپېژنو.

دغه راز د ملي راډیو ټلویزیون عمومي رییس ښاغلي اسماعیل میاخېل هم وویل، له دې وروسته به افغانستان کرکټ بورډ زموږ ستراتېژیک او اوږدمهاله ملګری وي چې دا دی نن د افغانستان غوره لیګ او شپږیزه کرکټ لیګ تړونونه لاسلیک کوو او افغان کرکټ ته به لا ډېر پرمختګ ورکوو.

ښاغلي میاخېل وویل: افغان لوبغاړو نه یوازې په افغانستان، بلکې په ټوله نړۍ کې د هېواد بیراغ رپولی او نن دا دی پر همدې بنسټ د افغانستان شل اوریز غوره لیګ او شپږیزې سندونه لاسلیک ته چمتو شوي چې دا د ټولو لپاره یوه ستره بریا ده.

نوموړي زیاته کړه، موږ له اوږدې مودې هڅه کوله چې د دواړو ادارو ترمنځ دغه اوږدمهاله تړون لاسلیک کړو نو پر همدې بنسټ د کرکټ بورډ له مشر ښاغلي یوسفزي او د دغې ادارې له ټولو همکارانو مننه چې دغې چارې ته یې عملي بڼه وروبخښله.

د ملي لوبډلې لوبډلمشر ښاغلي اصغر افغان هم په دغه ناسته کې خبرې وکړې او په وینا یې دا د خوښۍ ځای دی چې د افغانستان شل اوریز غوره لیګ د عمومي تنظیمونکي قرارداد له ملي ټلویزیون سره لاسلیک کېږي چې دا یوه ستره لاسته راوړنه ده.

هغه وویل: له شک پرته افغانستان شل اوریز غوره لیګ د افغان کرکټ لپاره په تخنیکي او مالي دواړو برخو

کې موثر دی چې یوه ښه بېلګه یې د افغانستان د تېر شل اوریز غوره لیګ ترسره کېدل و چې له هغه وروسته افغان ملي لوبډله په اسیا جام سیالیو کې ډېره ښه وځلېده او د یاد لیګ لوبو په دوام سره کولی شو چې د نړۍ سترو لوبډلو ته ماتې ورکړو ځکه په دغه سیالیو کې د لوبغاړو تکړښت او وړتیا لا زیاتیږي او تجربې شریکې کېږي.

د دغې غونډې په پای کې د همکاریو یاد تړون د دواړو ادارو د مشرانو، د المپیک کمېټې د عمومي رییس ښاغلي رحیمي او د ورزش په ډګر کې د ولسمشر د ستر سلاکار اجمل غني او د نورو لوړپوړو دولتي چارواکو په شتون کې لاسلیک شو.

باید وویل شي چې د همکاریو دغه تړون به د دواړو لوریو ترمنځ د لسو کلونو د مودې لپاره د تطبیق وړ وي چې له ۲۰۲۱ز کال به پیل او تر ۲۰۳۰ز کال پورې به دوام وومي.

د ایمرجېنګ او د نولس کلنو

کم عمره لوبغاړو روزنیز کمپ پیل شو

افغانستان کرکټ بورډ د نومبر میاشتې په ۲۳مه نېټه، په ننګرهار ولایت کې له ۱۹ کلنو د کم عمره او ایمرجېنګ لوبغاړو د لا ډېرې روزنې او چمتووالي په موخه روزنیز او تمریناتي کمپ پیل کړ چې په پایله کې به یې د فټنس، تکړښت، پیاوړتیا او استعداد له مخې د دواړو لوبډلو لپاره مخکښ او ځلېدلي لوبغاړي غوره شي.

له ۱۹ کلنو د کم عمره لوبغاړو په یاد روزنیز کمپ کې ۲۱ لوبغاړي شتون لري چې د دوی له ډلې به یې ۱۵ کسان د

یادې کچې لوبډلې ته لاره پیدا کړي چې له بشپړ چمتووالي او روزنې وروسته به په راتلونکي کې د ځینو هېوادونو پر وړاندې هم لوبې ترسره کړي.

د غوراوي کمېټې د غړو په وینا: ((په یادو ۲۱ کسانو کې هغه لوبغاړي شامل دي چې له دې وړاندې یې په ننګرهار کې له هغو روزنیزو او تمریناتي کمپونو څخه غوره شوي وو چې د زونونو او ولایتونو په کچه یې د ۱٦ کلنو او ۱۷ کلنو لوبغاړو له ډلې ډېره او غوره وړتیا له ځانه ښودلې وه او سربېره پر دې پکې د تېر نړیوال جام د افغان ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلې دوه لوبغاړي هم شتون لري.))

د یادې کمېټې غړي دغه راز وایي، دغه کمپ د لوبغاړو د لا ډېر چمتووالي او تکړښت په موخه پیل شوی چې د لوبغاړو د عمر اندازه هم ورته لومړیتوب لري، ترڅو د ۱۹ کلنو راتلونکي

نړیوال جام لپاره داسې کسان ونیسي چې له ټاکلې کچې یې عمرونه زیات نه شي او دغه راز دغه موضوع د کرکټ نړیوالې شورا لپاره هم ډېره حساسه ده.
د غوراوي کمېټې غړي زیاتوي: ((د غوراوي کمېټې د پالیسۍ له مخې په پام کې لري، ترڅو له یادو لوبغاړو داسې یوه پنځلس کسیزه لوبډله رامنځته کړي چې په راتلونکي کې د خپلې کچې د لوبډلو پر وړاندې ډېره پیاوړې او بریاوې راوړونکې وي.))
دغه راز د یادونې وړ ده چې د ۱۹ کلنو لوبډلې سربېره په یاد ولایت کې د ایمرجېنګ (۲۳ کلنو کم عمره) لوبډلې د جوړښت لپاره هم روزنیز او تمریناتي کمپ پیل شوی چې شا وخوا ۵۰ لوبغاړي پکې شامل دي.
د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې غړي په دې تړاو هم وایي، په دغو کسانو کې ټول هغه لوبغاړي شامل دي چې

په دویمه درجه او دریمه درجه سیالیو، د تېر کال د ۱۹ کلنو افغان لوبډله او د کورني کرکټ په نورو لوبو کې غوره ځلېدلي دي.
باید ووېل شي چې له یادو ټولو لوبغاړو به د فزیکي تکړښت ازموینه (یو-یو ټېسټ) هم اخیستل کېږي او د یاد روزنیز او تمریناتي کمپ په پایله کې به دواړه لوبډلې د یو بل پر وړاندې پنځه یو-ورځنۍ سیالۍ هم ترسره کړي.
د یادونې وړ ده چې د دواړو لوبډلو دغه روزنیز او غوراوي کمپ به د روان ۲۰۲۰م کال د ډسمبر میاشتې تر لسمې نېټې پورې دوام ومومي.

د افغانستان ورزشي خبریالانو فدراسیون

د ښاغلي فرهان یوسفزي هڅې او لاسته راوړنې وستایلې

د ورزشي خبریالانو د فدراسیون په څلورم کانګرس یا ناسته کې د غوره کړنو، اصلاحاتو او لاسته راوړنو له امله د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلی فرهان یوسفزی وستایل شو او سربېره پر دې پکې د ولایتونو او پلازمېنې ورزشي خبریالانو ته د کرکټ د پوهاوي ورکشاپ هم ترسره شو.

د یاد کانګرس په پیل کې د ورزشي خبریالانو د فدراسیون له لوري د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي ته د غوره کړنو، اصلاحاتو، لاسته راوړنو، د افغانستان کرکټ بورډ او یاد بنسټ ترمنځ د غوره اړیکو پاللو له امله تندیس هم ورکړل شو.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي په یاده ناسته کې د کانګرس له ګډونوالو سره ژمنه وکړه چې د افغانستان کرکټ بورډ به همېشه د رسنیو سره د تل په څېر خپلو پراخو همکاریو ته دوام ورکوي.

همدارنګه په یاده ناسته کې

د پلازمېنې او ولایتونو ورزشي خبریالانو ته د کرکټ بورډ د ویاند ښاغلي فرید هوتک له لوري، د افغانستان او د نړۍ د کرکټ د تاریخچې په تړاو د لنډو معلوماتو شریکولو ترڅنګ د کرکټ د کورنیو او نړیوالو اصولو او مقرراتو په اړه بشپړ معلومات ورکړل شول.

پر دې سربېره په یاد ورکشاپ کې خبریالانو ته د کرکټ بورډ پر اداري جوړښت، د کارکوونکو ګومارنې، د لوبغاړو غوراوي، رسنیو سره د معلوماتو شریکولو او همکاریو، د راډیو او ټلویزیون کمنټېټري یا تبصره کول، د کورني کرکټ د برنامو او پروګرامونو، لوبغاړو سره د مرکو کولو پر شرایطو، د هېواد د کرکټ په اوسني وضعیت، د کرکټ په خبر جوړولو، رسنیو کې د کرکټ لوبو ته د پوښښ ورکولو، د هېواد د کرکټ بورډ سره د رسنیو د همکارۍ پر اهمیت، د یوې موضوع په اړه د خبر جوړولو د ژورنالستانو پر تحقیق، په نړیوال کرکټ کې د ژورنالستانو د ګډون او یو شمېر نورو مهمو او اړینو موضوعاتو په اړوند معلومات ورکړل شول.

دغه راز د یادونې وړ ده چې د یاد ورکشاپ په لړ کې د افغانستان کرکټ بورډ د مسوولینو له لوري د هر خبریال پوښتنې ته په ورین تندي ځواب ورکړل شو. همدارنګه د پروګرام په پای کې د افغانستان ورزشي خبریالانو او د ورزشي خبریالانو د فدراسیون مشر ښاغلي خوشحال تایب د افغانستان کرکټ بورډ څخه مننه وکړه چې د ورزشي خبریالانو لپاره یې ګټور او اړین ورکشاپ ترسره کړ.

د کرکټ روزونکو لپاره د لومړی کچې روزنیز ورکشاپ ترسره شو

افغانستان کرکټ بورډ کې د نومبر
میاشتې په لومړی نېټه د ۳۱ ولایتونو
د کرکټ د ۴۰ روزونکو لپاره د لومړی
کچې (لېول ون) روزنیز ورکشاپ
پیل شو چې د همدې میاشتې تر
پنځمې نېټې پورې یې دوام وموند.
یاد ورکشاپ په نظري او عملي توګه

هره ورځ په دوه پړاونو کې ترسره شو
چې په ترڅ کې یې د مشرانو روزونکو
هر یوه عبدالولي امین او دولت خان
احمدزي له لوري د ورکشاپ ګډونوالو
ته اړوند زده کړې ورکړل شوې.

د لوبې پرمختیا څانګې مدیر فردوس

غني په دې تړاو وویل: له دې وړاندې
چې د روزونکو لېول ون ورکشاپ
پیل کړو، لومړی مو له شا وخوا ۱۲۰
هغو روزونکو سره مرکې کړې چې
د روزنې په ایلیمنټري یا پیلیز پړاو
ورکشاپ کې یې هم ګډون درلود.
د ښاغلي غني په وینا: همدارنګه

د دغه ورکشاپ ګډونوال ټول هغه
کسان دي چې په کورني کرکټ کې
لوبغاړي پاتې شوي دي، تر ۱۲ ټولګي
پورې زده کړې لري، په انګریزي ژبه
پوهېږي او په کورني کرکټ کې
یې کوچنګ یا روزنه هم کړې ده.

نومونړي زیاته کړه، د دوی لپاره

منظم لباس، د ورکشاپ ښوونیز
مواد او نورې ټولې اړوند اسانتیاوې
برابرې شوې دي او هیله ده چې
دوی د ورکشاپ له پای ته رسېدو
سره ډېر څه زده کړې واوسي.

د یادونې وړ ده چې د یادې
کچې ټول ګډونوال روزونکي هغه

کسان دي چې له دې وړاندې
یې په ابتدایي یا پیلیز ورکشاپ
کې چې شا وخوا یو کال وړاندې
ترسره شوی و؛ ګډون کړی وو.

د ښځینه کرکټ ۲۵ لوبغاړو ته قراردادونه ورکول کېږي

افغانستان کرکټ بورډ د روان کال په اکتوبر او نومبر میاشتو کې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو د ۴۰ ښځینو لوبغاړو لپاره د ښځینه کرکټ ملي لوبډلې د رامنځته کېدو په موخه د کابل په ملي لوبغالي کې تمریناتي او د غوراوي کمپ پیل کړی و چې له ډلې یې ۲۵ لوبغاړې انتخاب

او په نږدې راتلونکې کې به ورته د اداري له لوري قراردادونه ورکړل شي.

یاد تمریناتي کمپ چې د ټولو اسلامي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د تېرې اکتوبر میاشتې په ۱۷مه پیل شوی و، د روانې نومبر په پنځمه پای ته ورسېده چې په ترڅ کې یې

د لوبغاړو پر توپوهنې، توپ اچونې او توپ نیونې هر اړخیز کار وشو.

دا چې د کرکټ نړیوالې شورا د اصولو له مخې افغانستان هم باید د نورو هېوادونو په څېر د کرکټ ښځینه لوبډله ولري، اوسمهال افغان کرکټ بورډ پتیېلې چې د ټولو اسلامي او د هېواد کلتوري ارزښتونو ته په پام سره ښځینه کرکټ ملي لوبډله رامنځته کړي.

همدارنګه اداره په پام کې لري، ترڅو یادې لوبډلې ته په نږدې راتلونکې کې د اسلامي هېوادونو له منځه په یوه هېواد کې د ښځینه روزونکو تر روزنې لاندې روزنیز او تمریناتي کمپ هم چمتو کړي.

د یادولو وړ ده چې د ښځینه لوبډلې د رامنځته او چمتو کېدو وروسته به د کرکټ نړیواله شورا افغان لوبډلې ته د ورته کچې له لوبډلو سره سیالۍ او لوبلړۍ هم پیل کړي.

ښاغلی یوسفزی: لومړی ځل دی چې اجراییه رییس د ازادۍ سیالۍ له لارې غوره کېږي

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي د نومبر میاشتې په څلورمه نېټه، د ادارې له نوي اجراییه رییس ښاغلي رحمت الله قریشي او د اړوند څانګو له مدیرانو سره د ادارې پر چارو، لاسته راوړنو او ورسپارل شویو مسوولیتونو خبرې وکړې. د یادې اوونیزې ناستې په پیل کې ښاغلي یوسفزي د ادارې نوي اجراییه رییس ښاغلي قریشي ته د دندې مبارکي او ښه راغلاست ترځنګ وویل، دا لومړی ځل دی چې د ادارې اجراییه ریاست ته د ازادۍ سیالۍ او وړتیا له مخې یو څوک لاره مومي.

ښاغلي یوسفزي وویل: د اجراییه ریاست مقام لپاره مو له یو شمېر غوره شویو کسانو سره مرکې وکړې چې له منځه یې ښاغلی قریشي د نورو نوماندانو په پرتله په کرکټ او ادارې ډېر پوه شخص و او باید ووایم چې په دغه لړۍ کې د بورډ غړو او د ادارې ځینو مسوولینو هم ګډون درلود چې پروسه یې په بشپړه رڼه توګه پر مخ ولاړه.

ښاغلي یوسفزي زیاته کړه، د ادارې د بریا لپاره پوره همغږي، د سیستم نوي کول، موخې او هداف ټاکل، له پروسو او پروژو بشپړه څارنه کول هغه څه دي چې د یوې ادارې په پرمختګ کې رغنده رول لوبوي چې په وینا یې، نوي اجراییه مشر ته په دغه ډګر کې د ډېرو لاسته راوړنو او بریاوو هیله کوي.

ورپسې د ادارې نوي اجراییه مشر ښاغلي قریشي هم خبرې وکړې. د ادارې له عمومي مشر ښاغلي یوسفزي او د بورډ له غړو یې مننه وکړه چې د یاد مسوولیت ترسره کولو لپاره یې پر نوموړي باور وکړ او په وینا یې: د ادارې پر لومړیتوبونو

یې کار پیل کړی دی چې یو په بل پسې به ټولو ته عملي بڼه ورکوي او له هېوادوالو سره ژمنه کوي چې دغه ملي اداره به ډېر کم وخت کې د ډېرو لاسته راوړنو شاهده واوسي.

ښاغلي قریشي زیاته کړه: پر ټولو پالیسیو به له سره کتنه کېږي، پروسیجرونه به ټول عملي کېږي، په اداره کې د بېړنیو او وروستۍ دقیقې پرېکړو پر ځای به سیستماتیک پلانونه موجود واوسي، عواید به د ډیجیټل سیستم ته اړوو، د لوبډلې لپاره د مالي ملاتړ کوونکي موضوع ډېره اړینه ده او همدارنګه له وړاندې د غوراوي سیستم رامنځته کول هم د ادارې لپاره یو ستر لومړیتوب دی چې د ادارې د عمومي مشر او مسوولینو په بشپړه همکارۍ او مرسته به یې ترسره کړم.

سربېره پر دې د ادارې د اړوند څانګو مدیرانو هم یو په بل پسې د ورسپارل شویو مسوولیتونو په تړاو عمومي مشر ته معلومات وړاندې کړل. دغه راز د ناستې په پای کې د ادارې د عمومي مشر ښاغلي یوسفزي له لوري د ټولو څانګو مدیرانو ته نوې سپارښتنې او مسوولیتونه هم وسپارل شول چې په وینا یې، په راتلونکو غونډو کې به یې ورسره تعقیب کړي.



RANA Technologies Enterprises

The most trusted ISP/ICT Company in Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service

IT Hospital

Malomaat 411

RANA BPO

For more information call

0798 85 85 85

RANA TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan

www.ranatech.com info@ranatech.com

اکرام علي خې

سره ځانګړې مرکه

افغان کرکټ ډېر ځوان او تاند استعدادونه لري، د افغان کرکټ تاریخچه ټولو ته جوته او څرګنده ده چې له څومره ستونزو سره-سره تر دې پړاوه رارسېدلې ده چې یوازېنی لامل یې هم په هېواد کې د پیاوړو او تکړه لوبغاړو شتون دی چې ځینې یې بیا ډېر لوړ او فوق العاده استعداد لري.
پر همدې بنسټ مو د افغان کرکټ مجلې لپاره دا ځل د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د یو ورځنیو لوبو په نړیوال جام او همدارنګه په ټېسټ لوبه کې د ایرلېنډ ملي لوبډلې پر وړاندې له ګډونوال لوبغاړي اکرام علي خېل سره ځانګړې مرکه کړې ده، دا چې نوموړی څومره استعداد لري، موخې یې څه دي، څرنګه او له کومه ځایه یې د کرکټ نړۍ ته لاره وموندله، کرکټ ته چا ډېر هڅولی، خپلې راتلونکې کارکردګۍ ته څومره هیله من دی؛ دغه او د ورته نورو پوښتنو د ځوابونو موندلو په موخه مو له اکرام علي خېل سره مرکې لوستلو ته رابولو او هیله ده چې خوند ترې واخلئ.
افغان کرکټ مجله: اکرام علي خېل صاحب، هیله ده بشپړه روغتیا ولرئ او ډېره مننه چې له افغان کرکټ مجلې سره د مرکې کولو په موخه حاضر شوی.
اکرام علي خېل: له تاسو هم ډېره مننه چې ما ته مو وخت راکړ او زه مو د دې وړ وبللم، ترڅو دلته راشم او له تاسو سره مرکه وکړم، نو خوښ اوسئ او کور مو ودان.

پوښتنه: که له هر څه وړاندې خپلو ګرانو هېوادوالو ته ځان ورو پېژنئ؟
ځواب: نوم مې اکرام علي خېل دی، د لغمان ولایت اصلي اوسېدونکی یم، اوسمهال په کابل کې ژوند کوم او د کرکټ ملي لوبډلې توپوهونکی-ویکټ ساتونکی لوبغاړی یم.
پوښتنه: کرکټ ته دې کله او څرنګه مخه کړه؟
ځواب: له شک پرته، له کرکټ سره له ماشومتوبه مینه او لېوالتیا لرم. له ۲۰۱۰ زیږدیز کال څخه مې د روزنځای یا اکاډمي

له کچې کرکټ پیل کړ. ننګرهار کرکټ اکاډمۍ کې مې د لومړي ځل لپاره بېټ او توپ واخیستل، مینه مې لا ډېره ورسره زیاته شوه او دغه راز له همدې ځایه د ملي لوبډلې له پیاوړو لوبغاړو لکه کریم صادق، محمد نبي عیسی خېل، ګلبدین نائب او سمیع الله شینواري سره مخ شوم. د کورنۍ او ملګرو په هڅونه مې خپل شوق ته دوام ورکړ او دا دی اوسمهال د الله احسان دی، د ملي لوبډلې لوبغاړی یم.

پوښتنه: څومره زده کړې دې کړې دي؟

ځواب: د زده کړو په اړه به ووایم، د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د ۲۰۱۸ کال د نولسو کلنو کم عمره لوبغاړو نړیوال جام ته غوره شوم، د افغانستان په استازولۍ نیوزیلانډ ته ولاړم او له همدې امله ښوونځي رانه لسم ټولګي کې پاتې شو، خو انشاءالله چې ډېر ژر په خپلو زده کړو ته دوام ورکړم.

پوښتنه: د هېواد په کچه دې تر کومې کچې پورې کرکټ کړی دی؟

ځواب: په روزنځای یا اکاډمۍ، کلب، د کورنۍ کرکټ اړوند ټولو سیالیو کې او همدارنګه مې د ملي لوبډلې سره د ۲۰۱۹ نړیوال جام په سیالیو کې ګډون کړی دی.

پوښتنه: د یادې کچې سیالیو سربېره بل کوم ښه فرصت په لاس درغی، چې له برکته یې تر دې ځایه راورسېدلې؟

ځواب: دا یو حقیقت دی چې کرکټ د وخت او حوصلې لوبه ده، هر چا ته نوبت او قطار څرګندوي، ما کرکټ لوبې ته پوره پام کړی او له هر فرصته مې نهایت زیاته ګټه پورته کړې ده، په کلونو-کلونو مې خواري او محنت کړی. د ملي لوبډلې د لوبغاړو له تجربو مې ګټه اخیستې او په پایله کې یې شکر الحمدلله تر دې ځایه رارسېدلی یم.

پوښتنه: کوم ډول حالاتو کې دې

توپوهنه خوښیږي؟

ځواب: باید ووایم چې کرکټ د عجایبو لوبه ده، هر حالت یې تصادف دی، هر لوبغاړی غواړي په سخت او د اړتیا وخت کې ښه پرفامنس یا کارکردګي وکړي، لوبډلې ته په سختو حالاتو کې سیالی وګټي ترڅو د ښه نوم او شهرت خاوند شي. زما یوازېنۍ هیله او امید هم تل د ښو او غوره لوبو کول وي، زه عموما په میډل ارډر کې توپوهنه کوم، میډل ارډر یا د لوبې منځنۍ برخه د حوصلې، صبر، تکتیک او تخنیک توپوهنه ده چې د ویکټ ساتلو فکر، ملګرتیا او د لوبډلې د منډو اوربچ ته پکې باید پوره پاملرنه وشي. زه د چټکې ، منځنۍ او ورو توپوهنې وړتیا لرم او په هر حالت کې چې راباندې باور وشي، کولای شم خپل اعتبار او اعتماد وساتم. په ۱۹ کلنو او همدا شان ملي لوبډله کې د ټاپ منجمنټ او لوبډلمشر د پرېکړې او پلان سره سمه توپوهنه کوم هماغه ده چې ډېری وخت یې پایله هم ښه وي.

پوښتنه: څومره خوښ یاست چې د افغانستان لپاره مو ټیسټ کرکټ وکړ، او د ایرلنډ پر وړاندې مو له یادې لوبې څومره زده کړه وکړه؟

ځواب: ډېر زیات خوښ یم، ما کله هم دا فکر نه و کړی چې د ګران هېواد افغانستان لپاره به په دومره یوه ارزښتناکه او ټېسټ لوبه کې ګډون کوم، ټېسټ کرکټ د دنیا د هر کرکټر تمه، توقع، ارمان او هیله وي. ټېسټ کرکټ، د کرکټ لومړنۍ او اوږده بڼه ده چې د کرکټ لوبې په ټولو اصولو، پالیسیو او قوانینو پکې پوهېږي، ستا وړتیا او فزیکي قوه پکې مالومیږي، ټېسټ کرکټ راته یو خوب و او د ژوند یو لوی ارمان مې و، شکر چې الله ج مې دا ارمان پوره کړ.

پوښتنه: که راته ووایاست چې ایا

د کورونا وبا سربېره اوس هم له ملي لوبډلې سره د کابل په سرپټه کرکټ اکاډمۍ کې پر تمريناتو بوخت ياست؟

ځواب: د کورونا ناوړې ناروغۍ د نړۍ پر ټولو چارو بد اغېز کړی، د نړۍ ډېری کارونه يې خراب کړي او له دغې ناروغۍ د ورزش ډګر هم په امن کې نه دی. د کورونا له راتګ سره سم د ملي لوبډلې ټولو لوبغاړو په کورنو او اړوند ځايونو کې خپل تمرينات ترسره کړل چې په دغه جريان کې ما هم په منظمه بڼه هره ورځ خپل تمريتات ترسره کول. د کورونا وبا له لومړۍ څپې وروسته د افغانستان کرکټ بورډ د دويم ځل لپاره د کابل په ملي لوبغالي کې تمريناتي کمپ پيل کړ چې ډېره زده کړه مو ترې وکړه چې پکې د داخلي روزونکو له لوري د ملي لوبغاړو پر توپوهنه، توپ اچونه، توپ نيونه او فزيکي جوړښت هر اړخيز کار وشو چې په دغه برخه کې بايد له کرکټ بورډ ځانګړې مننه وکړم.

پوښتنه: د کورونا وبا وروسته دې په تمريناتو کې څومره بدلونونه راوستي دي؟

ځواب: تمرينات مې د پخوا په څېر د مهالويش له مخې مخته وړم، ځکه هيلې مې لوړې دي، د نړۍ په بېلابېلو لوبغالو مې د خپل هېواد بيرغ رپول يوازېنۍ هيله ده نو پر همدې بنسټ د تمريناتو سربېره مې خپلې غذا او خوړو ته هم پوره پاملرنه کوم.

پوښتنه: د راتلونکي لپاره کوم پلانونه لرې؟

ځواب: په کرکټ کې د ځلېدو او لاډېر پرمختګ لپاره ښه پلانونه لرم او غواړم چې د هيواد لپاره د وياړونو ډکه کرکټ وکړم ، ترڅو د خپل هېواد ستورى واوسم.

پوښتنه: له څه شي کرکه لرې؟

ځواب: له چل، دوکې او دروغو سخته کرکه لرم.

پوښتنه: په نړيواله کچه مو د خوښې لوبغاړی څوک دی؟

ځواب: کومارا سنګاکارا او ډيکوک

پوښتنه: په ملي لوبډله کې دې د خوښې لوبغاړی څوک دی؟

ځواب: حشمت الله شهيدي

پوښتنه: څه ډول ژوند دې خوښ دی؟

ځواب: ساده، کليوالي او ارامه ژوند مې ډېر خوښ دی.

پوښتنه: خپلو هېوادوالو او ځوانانو ته څه پيغام لرې؟

ځواب: له ټولو هېوادوالو هيله لرم چې له ګران هېواد افغانستان سره ډېره مينه وکړي، په هر ډګر کې ورته د زړه له تله کار وکړي، خپل هېواد ته رښتيني او صادق واوسي او د نورو هېوادونو په څېر يې ښراغان کړي. له ځوانانو هيله لرم چې ښوونځي او تحصيل ته مخه کړي او د خپل هېواد د راتلونکي لپاره ځانونه ورسوي.

هغه هېوادونه چې تر اوسه يې د شل اوريزو نړيوالو سياليو جامونه ګټلي دي

د کرکټ شل اوريزه بڼه، د کرکټ د دوو نورو نړيوالو بڼو (ټېسټ او يو ورځنۍ) په پرتله چټکه او خوندوره ده. ډېر مينه وال لري او د ډېرې جذبې او چټکتيا له امله يې د کرکټ نړۍ ته لا ډېره ښکلا وربخښلې ده. دا چې د يادې بڼې د نړيوال جام له پيل راهيسې تر اوسه کومو هېوادونو د دغو سياليو نړيوال جامونه په خپل نوم کړي؛ په لاندې لنډو ټکو کې يې له تاسو سره خلص او لنډ معلومات شريکوو. د شل اوريزو نړيوالو سياليو د لومړني نړيوال جام لوبې په ۲۰۰۷ کال کې ترسره شوې وې چې د هندوستان په بريا سره پای ته ورسېدې او وروستی جام يې هم په ۲۰۱٦م کال کې ترسره شوی چې د ويسټ انډيز هېواد په ګټه پای ته رسېدلی دی.

هندوستان

۱

د شل اوريزو نړيوالو سياليو لومړی جام په ۲۰۰۷ز کال کې ترسره شو. د ياد کال د شل اوريزو نړيوال جام سياليو ګټونکی هېواد هندوستان و، دغه پړاو سيالۍ چې کوربه توب يې د سويلي افريقا هېواد له لورې کېده؛ پايلوبه يې د ياد هېواد د جهونزبرګ په Wanderers Stadium لوبغالي کې د هندوستان او پاکستان لوبډلو ترمنځ په يوه زړه پورې سيالۍ سره ترسره شوه چې په پايله کې يې هندوستان د پنځو منډو په توپير سيال هېواد پاکستان ته ماتې ورکړه او هندوستان د لومړي پړاو جام سرليک په خپل نوم کړ. په ياده سيالۍ کې ګواتم ګمبير او روهېت شرما بيا په زړه پورې سيالي ننداري ته وړاندې کړه، ګمبير په ۵۴ توپونو ۷۵ منډې او روهېت بيا په ۱٦ توپونو ۳۰ ناسوځېدلې منډې تر سره کړې وې، نو د دوی غوره کارګردګي او ځلېدنه د دې لامل شو، ترڅو خپله لوبډله د بريا تر څوکې ورسوي.

پاکستان

۲

د يادو سياليو دويم جام په ۲۰۰۹ کال کې د انګلستان هېواد په کوربه توب ترسره شو. له ډلې يې سريلانکا او پاکستان هېوادونه وو چې د ياد جام سياليو پايلوبې ته يې لاره مونده چې په پايلوبه کې دواړو لوبډلې د انګلستان هېواد په Lords لوبغالي کې له يو بل سره مخ شوې. ياده لوبه کې شاهد افريدي په ۴۰ توپونو ۵۴ ناسوځېدلي منډې اوعمر اکمل بيا پر ۲۸ توپونو ۳۷ منډې کړې وې، او د اتو وېکټو په توپير يې له سيالي لوبډلي سيالي وګټله اوجام يې په خپل نوم کړ.

انګلستان

د ۲۰۱۰ م کال د شل اوریزو نړیوال جام سیالو کوربه توب د ویسټ انډیز پر غاړه و، چې پایلوبه یې په -Kens ington Ova لوبغالي کې د انګلستان او اسټرالیا ترمنځ ترسره شوه چې د انګلستان په بریا سره پای ته ورسېده. په دې سیالۍ کې د لوبې لومړۍ پاېنۍ اسټرالیا پیل کړې وه، خپلې سیالې انګلستان لوبډلې ته یې د شپږو ویکټو په غورځېدو سره د ۱۴۷ منډو هدف ټاکلی و. انګلستان بیا ټاکلی هدف د اوو وېکټو په توپیر پوره کړ او د یاد کال د شل اوریزو نړیوال جام سیالیو عنوان یې په خپل نوم ثبت کړ

ویسټ انډیز

دغه پړاو سیالۍ د سریلانکا په کوربه توب په ۲۰۱۲ م کال کې ترسره شوې. پایلوبه یې د سریلانکا په Colombo کې د ویسټ انډیز او کوربه هېواد سریلانکا ترمنځ ترسره شوه چې په پایله کې یې ویسټ انډیز د ۳٦ منډو په توپیر سریلانکا ته ماتې ورکړه او جام یې خپل هېواد ته له ځانه سره یووړ. په دې سیالۍ کې مالون سمیولز په ۵٦ توپونو ۷۸ ډېرې منډې جوړې کړې وې او ډېرن سمي بیا په ۱۵ توپونو ۲٦ ناسوځېدلي منډې کړې وې چې د دوی دغه کارکردګي د یادې لوبډلې د بریا لامل شوه.

سریلانکا

د پورته ذکر شوو هېوادونو سربېره سریلانکا هم د نړیوالو شل اوریزو سیالیو جام خپل کړی دی. د یادو سیالیو پنځم نړیوال جام په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې په بنګله دېش کې ترسره شو. پایلوبه کې یې هندوستان د سریلانکا پر وړاندې ډکر ته ښکته شو. دغه سیالي د بنګله دېش په Dhaka کې ترسره شوه چې په پایله کې یې سریلانکا د شپږو لوبغاړو په لرلو سره له هند بریا خپله کړه او د یاد کال د جام ګټونکي په بڼه یې ځان ثابت کړ. یاده لوبه کې ښه او په زړه پورې لوبه کمارا سنګاکارا او تیسارا پرېرا ترسره کړې وه. سنګاکارا په ۳۵ توپونو۵۲ او پرېرا په ۱۴توپونو ۲۳ ناسوځېدلي منډې جوړې کړې وې او بریا یې خپله کړې وه.

ویسټ انډیز

ویسټ انډیز تر دې دمه دوه ځلې د شل اوریزو سیالیو اتلولي ترلاسه کړې ده. وروستی نړیوال شل اوریزه جام سیالۍ په ۲۰۱٦ میلادي کال په هندوستان هېواد کې ترسره شوې چې پایلوبې ته یې انګلستان او ویسټ انډیز هېوادونه وتلي وو. لوبه د هند په Kolkata کې ترسره شوه چې په پایله کې یې ویسټ انډیز د څلورو ویکټو په توپیر انګلستان له ماتې سره مخ کړ او خپل هېواد ته یې د دویم ځل لپاره د شل اوریزو سیالیو جام یووړ. دا چې پتیېل شوې وه چې د دغو سیالیو اووم نړیوال جام باید په ۲۰۲۰ز کال کې ترسره شي، خو د کورونا وبا له امله د کرکټ نړیوالې شورا په سپارښتنه دغه پړاو سیالۍ ترسره نه شوې او یادې سیالۍ یې د ۲۰۲۱م کال ته وځنډولې او تمه ده چې راتلونکی ۲۰۲۱ کال به شل اوریز نړیوال جام سیالۍ د هندوستان یا کوم بل هېواد په کوربه توب ترسره شي.

لباس کرکت

Cricket Jersey

به گمان اغلب در اوایل، کرکت با لباس های رسمی بازی می شد و در بیشتر تصاویری که از گذشته ها بجا مانده، دیده می شود که مردم انگلستان و برخی مقام های این کشور با لباس های رسمی و یونیفورم نظامی کرکت بازی می کنند.

انگلستان بعد از ایجاد بازی کرکت در تلاش پیشرفت و وسعت این بازی بود به همین اساس بازی کرکت را در کشورهای که تحت سلطه‌اش بودند، مروج ساخت، اما لباس های خاص برای کرکت زمانی تهیه شد که کلپ‌های کرکت ایجاد شدند و فیصله بر این شد تا این بازی در لباس‌های خاص انجام شود.

برای این بازی نخست لباس سفید رنگ انتخاب شد، چون‌که کرکت به بازی اشراف

(gentleman's game) نیز مشهور بود.

چرا رنگ سفید؟

طوریکه بازی کرکت، بازی اشراف نامیده شده، پس اشراف بیشتر لباس‌های سفید و تمیز می‌پوشند. همچنین نخستین فارمت یا ساختار رسمی کرکت، ساختار تیست بود و تیست در چهار-پنج روز بازی می شود پس چهار الی پنج روز بازی کردن با لباس های رنگه نیز کار آسانی نبود و به همین دلیل رنگ سفید که دفع کننده گرمی و رنگ روشن است برای لباس بازیکنان انتخاب شد.

در بازی تیست از توپ سرخ و گلابی استفاده می شود چون این رنگ ها بهتر قابل دید است و به بازیکنان هنگام بازی مشکل ساز نمی شود و سایت سکرین‌ها یا تخته های که عقب و پیشروی بازیکن/توپزن قرار دارند نیز به رنگ سفید است. ضمن آن باید گفت این که بازی کرکت در اواخر قرن ۱۶م ایجاد شده، پس طبیعی است که در آن‌زمان ساخت لباس‌های رنگه نیز مروج نبود.

لباس کرکت Cricket Jersey

لباس‌های رنگه:

رنگ لباس برای نخستین بار در مسابقات جام جهانی کرکت سال ۱۹۹۲م برای بازی های یک روزه در قانون تدوین شد، اما تا سال ۲۰۰۱م بدون کشورهای آسترالیا، نیوزیلند و آفریقای جنوبی دیگر تیم هیچ کشوری از لباس‌های رنگه استفاده نمیکرد، اما در سال ۲۰۰۲م این قانون بطور عموم عملی شد و در مسابقات از لباس رنگه استفاده صورت گرفت.

ضرورت لباس رنگه:

قبلاً در همه ساختارهای کرکت لباس و توپ سفید رنگ استفاده می شد و رنگ توپ و لباس بازیکنان هیچ تضادی باهم نداشتند که این خود برای بازیکنان مشکل ساز شده بود و توپ برای شان قابل دید نبود در حالیکه باید رنگ توپ و لباس بازیکنان متفاوت باشند.

همچنان اینکه مسابقات یک روزه از طرف شب نیز انجام می شد و در این ساختار نیز لباس سفید با توپ سفید مشکل ساز می شد پس به همین دلیل ایجاب میکرد تا رنگ‌ها تغیر نماید.

ضمن آن هر اداره ورزشی تلاش می ورزد، تا بازار جهان را تسخیر نماید، پس به همین اساس بود که فارمت یا ساختار بیست آوره کرکت نیز به میان آمد که حالا در برخی کشورها حتا ساختارهای ده آوره و شش آوره آن نیز بازی می شود.

همچنان رقابت ها در مارکیت نیز باعث رنگین شدن لباس بازیکنان کرکت شده است، پس اینجا است که حامیان مالی تیمها نیز میخواهد تا همه چیز را رنگین سازند که

لباس کرکت Cricket Jersey

این همه موارد بخاطر پیشرفت کرکت صورت می گیرد.

انتخاب رنگ‌ها:

زمانی‌که برای نخستین بار در مسابقات جام جهانی لباس‌های رنگه رایج شد، لباس های همه تیم ها دیزاین مشابه اما رنگ متفاوت داشتند، اما اکنون همه کشورها رنگ و دیزاین لباس را به صلاحیت و ذوق خود انتخاب می‌کنند. شماری از کشورها رنگ‌های بیرق خود را در لباس تیم ملی شان جابجا می کنند که بهترین نمونه های آن تیم های کرکت بنگله دیش، ویست اندیز و پاکستان هستند. گفتنی است که رنگ لباس تیم ملی ما(افغانستان) آبی است و این رنگ به هدف انتقال معنی امید و صلح استفاده شده است.

بعضی از کشورها این مفکوره را تعقیب نمی کنند و رنگهای مختلفی را برای تیم شان انتخاب می‌کنند مثل کشور انگلستان و دیگر کشورها...و

در نتیجه باید گفت که رنگه شدن لباس‌ها بالای بازی کرکت تاثیر مثبت داشته و نتیجه آن نیز خوب بوده است.

know how much of a great atmosphere would it be,» said Finch.

«You need to get in quick though as tickets, starting at $30 for adults and $10 for kids, are in high demand. Both Manuka Oval, Canberra (65 per cent) and the SCG (50 per cent) will be at limited capacity,» cricket.com.au said in a FAQ section about the series.

Following the three ODIs and as many T20Is, Australia and India will compete in a four-match Test series. The Adelaide Oval, which will host the first Test, will allow 27,000 spectators or 50 per cent of its capacity on each match day.

For the Boxing Day Test at the Melbourne Cricket Ground, 25,000 fans for each day have been currently allowed by the Victorian government. The SCG, like the ODIs and T20Is, will hold 50 per cent of total capacity for the third Test. Brisbane's Gabba venue can host up to 30,000 fans, or 75 per cent of its capacity for the fourth and final Test.

AUSTRALIA VS INDIA

Crowds to return to stadia for men's cricket after 8 months



The three-match ODI series between India and Australia, which will get underway at the Sydney Cricket Ground on Friday, will also be the first time that men's cricket will see specatators in stadia since March when international cricket had come to a halt following the coronavirus outbreak.

The first two matches at the SCG will be played at 50 per cent crowd capacity while the third ODI at Canberra will be played at 65 percent crowd capacity.

The coronovirus pandemic had forced all international series as well as domestic competitions, like the Indian Premier League (IPL), to be played behind closed doors.

Australia's limited overs skipper Aaron Finch on Thursday said that the team was excited to play in front of crowds again.

«The last time we played in front of crowds in Australia was a very long time ago. There has been a huge amount of work going to allow that to happen -- from the public in various states there has been tremendous amount of work done to keep coronavirus under control. We are really excited. We

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزیزی بانک
Azizi Bank

انټرنټ له لارې بانکوالي

- د عزیزي بانک په حسابونو کې په یو وار د زیاتو معاملاتو ترسره کول
- څو سطحي یا د څو صلاحیت لرونکو تایید (ګڼ واکونه)
- په ګروپ کې د یوصلاحیت لرونکي تایید (ډله ایز واکونه)

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af